دافغانستان د څېړنې او ارزونې اداره

# ولسي جرګه په ۱۳۸۹ کال کې

له ټولټاکنوڅخه دمخه سیاستونه او د مخالفینو څرګندیدل



د افغانستان د څېړنې او ارزونې ادارې د پارلماني ټاکنو

دوهم لنډيز

ليکوالان: محمد حسن وفايي او انا لارسن

د ۱۳۸۹ کال د غبرګولي مياشت

# منځ پانګه


۱. سریزه.................................................................................................................................................۳

۲. د (۱۳۸۴-۱۳۸۹) ولسي جرګه : داخلي اغیزمنتیا او د ډلو ټپلو جوړېدنه.................................................۴

۳. د ۱۳۸۹ کال ټولټاکنې : تیارۍ او اندېښنې.............................................................................................۹

۴. پایلې: د ۱۳۸۹ کال د غبرګولي څخه د وړې تر میاشتې او تر هغې وروسته..........................................۱۱



د نوموړې څېړنې د لګښت یوه برخه د افغانستان د پرانیستې ټولنې د انسټیټیوټ له خوا برابره شوې ده.

**د لیکوالانو په اړه :** محمد حسن وفایي د افغانستان د څېړنې او ارزونې په اداره کې د حکومتدارۍ د ډلې سره د څېړنې د مشر په توګه کار کوي او د۱۳۸۵ کال د سلواغې د میاشتې راهیسې ددې ادارې سره په دنده بوخت دی. نوموړی په اسلامی قانون کې د پاکستان د پنجاب د پوهنتون څخه خپله ماسټري تر لاسه کړې او اوس مهال د کاتب دلوړو زده کړو په انسټیټیوټ کې د لیسانس د تر لاسه کولو په موخه د نړیوالو اړیکو د دریم کال محصل دی. انا لارسن هم د افغانستان د څېړنې او ارزونې په اداره کې د حکومتدارۍ د ډلې د څېړونکې په توګه دنده لري نوموړې د ۱۳۸۲ کال راهیسې په افغانستان کې د حکومتدارۍ او جنسیت پر موضوعاتو کار کوي. لارسن په ټولنیزو علومو کې د لندن پوهنتون،د افریقایی او ختیځو علومو له ځانګې څخه د تاوتریخوالې،شخړو او پرمختګ په برخه کې ماسټري ترلاسه کړې ده. او اوس د یارک د پوهنتون د جګړې څخه د بیرته ستنیدنې او پرمختګ په اداره کې په فلسفه کې د ماسټرۍ د ترلاسه کولو لپاره نوماند ده چیرته چې هغه د افغانستان د ډیموکراتیک کولو د بهیر په اړه زده کړه کوي.

**مننه:** لیکوالان د پارلمان له ټولو وکیلانو،حکومتي چارواکو، او نورو ټولو هغه ځایي خلکو څخه مننه کوي چې په څیړنه کې د ګډون په موخه یې ورته وخت ورکړی. لیکوالان دڅېړنې له ډلې هر یوه فرید احمد بیات، انیسه نضهت او سمیرا ابراهیمي څخه د څېړنې لپاره د معلوماتو د راغونډولو په برخه کې د هغوې د زیاتو هلو ځلو څخه ډیره مننه کوي. همدارنګه هغوی د ددې څېړنې په اړه د پاولا کانتور، نوح کاوبرن او د کتونکو له ګټورو نظریو څخه هم د زړه له کومې مننه کوي

**ژباړونکې:** سعیدالله رښتین

**تصحیح:** ماري شیرزاد

**طراح او دیزان:** وکیل وسیم

**د پوښ انځور:** پوښ انځور د USAID له خوا اخیستل شوی



© ۱۳۸۹ د افغانستان د څېړنې او ارزونې اداره. ځینې حقونه خوندي دي.دغه خپرونه ښایي د افغانستان د څېړنې او ارزونې ادارې او د لیکوال د لیکلې اجازه لیک د تر لاسه کولو سره بیا خپره، د موندلو وړ سیستم کې زیرمه او یا یواځې د غیر-سوداګریزو موخو لپاره ولیږدول شي. چیرې چې دغه خپرونه بیا خپره، زیرمه او یا د بریښنایي لارې لیږدول کیږي، د افغانستان د څېړنې او ارزونې داداری د ویب پاڼې اړیکه باید ذکر شي www.areu.org.af. او ددې خپرونې په کارول له نوموړې موافقې پرته ، د خپرونکې یعنې د افغانستان د څېړنې او ارزونې د ادارې مخکینې لیکلې اجازه لیک ته اړتیا لري. دغه اجازه لیک کیدای شي د areu@areu.org.af او یا د ۰۰۹۳۷۹۹۶۰۸۵۴۸ شمیرې سره د اړیکې له لارې تر لاسه شي.

# ۱ . سریزه

د افغانستان د ولسي جرګې لومړی پړاو مخ په ختمېدو دی. سره له دې چې د راتلونکو پارلماني ټاکنو نېټه په اټکلي ډول د ۱۳۸۹ کال د وږي د میاشتې ۲۷ ټاکل شوې ده د پارلمان غړي د خپلو څوکیو د دوهم ځل ترلاسه کولو لپاره تیاری نیسي. که څه هم چې د راتلونکو پارلماني ټاکنو شرایط د ۱۳۸۴ کال له ټاکنو سره ډېر توپير لري، خو د تېرو پنځو کلونو په ترڅ کې او په تیره بیا په وروستیو شپږو میاشتو کې په اوسني پارلمان کې یو لړ پرمختګونه رامنځته شوي دي چې پرټاکنو او له هغې لارې په ټاکل شوي پارلمان به اغیزه ولري. په دغه پرمختګونو کې مخالفینو ته مخ په زیاتېدونکی میلان، په ظاهري ډول د ګوندونو د مشرانو د واک کمزورې کول، او یوه کلکه ټاکل شوې ډله څو "د افغانانو د ربښتینو استازو"په څېر له خپل هویت څخه دفاع وکړي ګڼون لري.

د راتلونکو ټولټاکنود سمې ارزونې لپاره د تیرو پنځو کلونو په موده کې د ولسي جرګې پر داخلي اغیزمنتیا پو هېدل د یو شمیر دلایلو له مخې ډېر مهم دي، لومړی د نوماندو لوړې شمیرې ته په پام سره، د پارلمان د غړو د بیا سیالی بیلابیلوانګیزو او همدا راز په پارلمان کې د بیلابیلوډلو او د ګډو ګټو لرونکو ګروپونو ونډې ته یوه کتنه د اهمیت وړده. سر بیره پر دې د ولسي جرګې د اوسني سیاسي چاپیریال شننه د اجرائیه او مقننه قوو او همدارنګه د هغه ډګر چې نوي بریالي نوماندي ورننوځي، په بیا انډولولو کې د دې د باالقوه ونډې د پو هاوي لپاره خورا مهمه ده. د ولسي جرګې د ننه د ټولټاکنو څخه وړاندې سیاسي فعالیتونه څرګندوي چې، د پارلمان د غړو ټاکنیزې مبارزې به څرنګه وي، د ګوندونو او نورو ډلو سره د هغوی اړیکې به څه ډول بڼه غوره کړي ، او له حکومت سره د هغوی اړیکي به څرنګه ددوی کړنلاره چې د دوی درېځ څرګندوي وټاکي.

دغه لنډیز د پارلماني کړنو او اغیزمنتیا په اړه د افغانستان د څېړنې او ارزونې د ادارې د رواني څېړنې ځینې لومړنۍ موندنې وړاندې کوي. په عمومي ډول په دغه څېړنه کې ددوه غبرګو کړنلارو څخه ګټه اخیستل شوې ده

۱. د راتلونکو ټولټاکنو څخه دمخه په پارلمان کې د بدلونونو په اړه د پارلمان د غړو د نظریاتو پرتله کول
۲. د بلخ، کابل او پکتیا په ولایتونو کې د رایه ورکوونکو پرنظریاتو باندې غور کول.

دغه مقاله د لومړنۍ کړنلارې لومړنۍ موندنې خلاصه کوي، کوم چې د پارلمان له ۵۰ څخه زیاتو غړو سره چې د بیلابیل شالید، ولایتونو، جنسیت، قومونو، سیاسي اړیکو او مفکورو درلودونکې دي د نیمه جوړښتي مرکو څخه د راټول شوو معلوماتو پر بنسټ ولاړ دي.[1] د پارلمان له دې غړو څخه ۱۵ تنه یې د دوهمې مرکې لپاره غوره شوي وو. سر بیره پردې په لومړي سر کې د پورته درې ولایتونو د رایه ورکونکو نظریات چې ددوهم کړنلارې لپاره ټول شوې وو هم دلته یوځای شول تر څو د پارلمان د غړو له خوا ورکړل شوي معلومات په مثلثونو وویشل شي.[2]

په لومړي سر کې دغه مقاله د ولسي جرګې د داخلي اغیزمنتیا او په ځانګړې ډول په تیرو پنځو کلونو کې د ډلو په جوړولوکې د بدلونونو، اوپه راتلونکو ټولټاکنو باندې یې د باالقوه اغیزو د په پام کې نیولو په هکله یوه لنډه پوهه وړاندې کوي. دوهم له ټاکنو څخه وړاندې پړاو کې د پارلمان د غړو د ځینو تیاریو او د هغوی د اندیښنو ارزونه کوي. او په پای کې دا مقاله د ټاکنو او له هغې ها خوا پړاو لپاره ددې موندنو پر ځینو پایلو بحث کوي.

# ۲ . د (۱۳۸۴-۱۳۸۹) ولسي جرګه : داخلي اغیزمنتیا او د ډلو ټپلو جوړېدنه

په افغانستان کې د ۱۳۸۰ کال وروسته د لومړني رامنځته شوې پارلمان لپاره ټاکنې د بن د تړون د یوه وروستي پړاو په توګه د ۱۳۸۴ کال د وږي په میاشت کې تر سره شوې. د کرایسس ګروپ (ICG) د بنسټ تر تولو یوې پیچلې ټاکنې کې ۴. ۶ ملیونه رایه ورکوونکو او ۲۸۳۵ نوماندو برخه واخیسته.[3] د هر ولایت د وګړو د شمیر او د ورکړل شوې سهمیې سره سم ۲۴۹ تنه د پارلمان غړې وټاکل شول. دپارلمان دغه غړې د بیلابیلو شالیدونو، مسلکونو، فکري ارزښتونو او خصوصي تاریخچو لرونکو غړو ټولګه وه چې په کې پخواني وتلي جهادي مشرانو، پخواني کمونیستې سیاستوالو، ډیموکراټانو، ژورنالستانو او استادانو ګډون درلود.[4]

د پارلمان د غړو له ډلې څخه یې ۶۸ تنه ښځینه استازې دي چې یوه برخه یې د ۱۳۸۳ کال د اساسي قانون له مخې ښځو ته د ځانګړې شوو څوکیو پر بنسټ پارلمان ته راغلي وې او پاتې برخه یې هغه ښځینه استازې دي چې پخپله د ټولټاکنو له لارې بریالی شوې دي

سره له دې چې په مرکو کې د پارلمان نږدې ټولو غړو د ستونزو او ننګونو شتون یې منلو، خو په تیرو پنځو کلونو کې یې په پارلمان کې په عمومي ډول خپل کار مثبت و ګاڼه. هغوی د پارلمان رامینځ ته کیدو ته د ملي یووالي د نښې په توګه اشاره وکړه او په پارلمان کې په خپلو لاسته راوړنو په ځانګړې توګه د پارلمان څخه د زیات شمیر قوانینو په تیریدنه او د سازماني ظرفیتونو په پرمختګ یې خپله خوښې څرګنده کړه. د قانون جوړونې په اړه د حکومت د وړاندیزشوو طرحوپه دقت سره ارزونه، د وزیرانو د کړنو حساب ورکونې د مراسمو، د ټولټاکنو د قانون په اړه د ولسمشر د فرمان په اړه او د ۱۳۸۹ کال د بودیجې په اړه د پارلمان راپورونه په خپله دا ثابتوی چې د پارلمان د غړو دا باور چې د هغوی ظرفیتونه لوړ شوي سم دی.[5] د نیوکو لپاره لوړ شوی ظرفیت باید مفهومي وي؛ یعني د ټولټاکنو څخه د مخه د پارلمان د غړو ډېر شتون او د هغو درېځ کیدای شي مرسته

کوونکې فکتورونه وګڼل شي. د دې سره سره د پارلمان غړو تیر کال د حکومت د فعالیتونو په څارنه کې د خپلې ونډې په اړه ډېره هوښیاري څرګنده

---

[1] د دوهمې لارې څخه ترلاسه شوې لومړنی لاسته راوړنې جلا تشریحی لنډیز هم ترلاسه کیدای شي: نوا کوبرن، ؛ د کابل په اړونده : په افغانستان کې د ولسي جرګې د ټاکنو او سیمه ایزو سیاسی شبکو اهمیت؛ (کابل: د افغانستان د څېړنې او ارزونې اداره ۱۳۸۹). د دواړو لارو د لومړنیو لاسته راوړنو په سلسله کې به د ۱۳۸۹ کال د اوړي په موسم کې دوه ورقی نور تفصیل هم ورکړې شي
[2] دوهمې لارې مرکې د رایه ورکونکو سره په دی ډول تر سره شوې چې په هغې کې ددې درې ګونو ولایتونو د ټولټاکنو کارکوونکو، د

ولایتی شورا غړو، سیمه ایزو مخورو کسانو او کلیوالو او ښاری رایه ورکوونکو ګډون درلود
[3] د کرکیچ نړیواله ډله،«د افغانستان نوی مقننه قوه: ډیموکراسی کار کولو ته اماده کول» د کړکیچ د ډلی په ۱۱۶ نمبر راپور کې (کابل، د کړکیچ نړیواله ډله، ۱۳۸۵)
[4] انډریو ویلډر،«ویشل شوی کور؟ د افغانستان د ۱۳۸۴ کال د ټاکنو ارزونه» (کابل: د افغانستان د څېړنې او ارزونې اداره، ۱۳۸۴»
[5] د افغانستان د پارلمان د پیاوړتیا پروژه ، د قانون جوړونې دریمه خبر پاڼه ، اووم نمبر،۲۴/حمل/۱۳۸۹

کړه . د انفراداي ظرفیتونو د نشتوالي او د ځینو سازماني خنډونو لکه د حکومت د ګټو د نفوذ امله د حکومت د څارنې لپاره د شخصي، سازماني یا د سیستماتیکي وړتیا نشتوالی، د پارلمان لخوا د تصویب شوو قوانینو په عملي توګه نه پلې کیدل، او دا باور چې د پارلمان غړي دهغوی د موکلینو د غوښتنو د پوره کولو وړتیا نه لري د پارلمان د غړو له خوا پیژندل شوې مهمې ننګونې دي.

ولسي جرګې په تیرو پنځو کلونو کې یو پیچلی او غیر متحد ماهیت درلود او په خپل مینځ کې یې د غیر رسمي ډلو د جوړولو، د مهمو شخصیتونو او ایډیالوژیکي دریځونو، او همدا راز د حکومت داجراییه قوې په وړاندې دخپل د دریځ او د پارلمان د غړو له نظره د خلکو د استازو په توګه د دوی د پیژندنې له نظره، یو لړ بدلونونه یې زغملې دي.[۶] مقاله په دې برخه کې د پارلمان ددې داخلي بدلونونوپه اړه ځینې اساسي ارزونې وړاندې کوي، چې په لومړي سرکې د مخالفینو او د حکومت پلوه ډلو، سیاسي ګوندونو، قومي ډلو او پارلماني ډلو په بڼه د ګروپونو جوړونې ته نظر اچوي.

## حکومت پلوه / د مخالفینو اغیزمنتیا

د افغانستان په پارلمان کې د حکومت پلوه او مخالفې ډلې تر منځ کوم رسمي بیلتون شتون نه لري، خو په ۱۳۸۴ کال کې د پارلمان د پرانیستلو راهیسې د پارلمان غړې او ډلې په خپل سر کله له یو او کله له بل لورې سره یو ځای شوي او یا هم د دوی دواړو تر مینځ د یو شمیر خپلواکو او د تړاو نه درلودونکو غړو سره یو ځای شوې دي په ۱۳۸۴ کال کې شنونکو د پارلمان غړې یې د همدې درې ډلو پر بنسټ ویشلې دي او څرګنده یې کړه چې په هره ډله کې به د پارلمان د غړو شمیره به سره برابره یعنې نږدې ۸۰ تنه به وي.[۷] سره له دې د دغو شنونکو د وړاندوینې له مخې به دغه درې ډلې به ثابتې پاتې نه شي او کیدای شي د وخت په تیریدو په کې بدلون رامنځته شي. واقعیت همدا شو او د لومړی پارلماني دورې ډیر غړې تر اوسه هم په رسمي ډول په ډلو ویشلو ته زړه نا زړه دي.[۸] د ګوندونو د مشرانو او حکومت تر منځ سیاسي بدلونونو ددې ابهام سره مرسته وکړه. لکه څرنګه چې ویل کیږي، دحکومت پلوه یا مخالفو ډلو سره د پارلمان د غړو د یو ځای کیدنې لپاره غوښتنې د ۱۳۸۸ کال دولسمشریزو ټاکنو او د حامد کرزي او عبدالله عبدالله تر مینځ دټاکنو د دوهم پړاو د په پام کې نیولو راهیسې مخ په زیاتیدو دي. د حالاتو دې بدلون، او د ټاکنو د مبارزې په وخت عبدالله ته دپام وړ ملاتړ، په هغه وخت کې د حکومت ا و مخالفینو تر منځ بیلتون یې لا پسې زیات کړاو د پارلمان د غړو لپاره یې وروستی دریځ لا اعتباري ثابت کړ. د بیلګې په توګه د پارلمان ډیرو غړو په ضمني ډول یا په ډاګه وویل چې هغوی ځکه د حکومت سره مخالف وو چې هغوی په حکومت کې د ډیر فساد په هکله د خلکو څخه شکایتونه تر لاسه کړې او یا هم د هغوی د موکلینو غوښتنه وه چې وکیلان یې باید د فساد په وړاندې ودریږي. داسې ښکاري چې د وړې د میاشتې د ټاکنو په درشل کې به د پارلمان د غړو په متحد ډول څرګندیدل به روښانه وي( که څه هم چې لا تر اوسه هغوی بدلون منونکې دي،او نه همغږې شوې دي او نه هم سمبال شوې دي) لکه چې د پارلمان یو غړی وایي:

> *اوسمهال په ولسي جرګه کې درې ډلې شتون لري، لومړی ډله چې د پارلمان اکثریت جوړوي حکومت پلوه ډله ده او هر هغه څه چې حکومت یې ورته وایي دوی یې مني.... دوهمه ډله چې کابو ۷۰ غړې لري د مخالفینو ډله ده، او دریمه ډله چې کابو ۲۰ تنه غړې لري خپلواکه او نا پېیلې ډله ده چې د دوی یووالی ډیر ځلې په پارلمان کې د ځواک په انډولتیا پورې تړلی دی*[۹]

اوس د ټولټاکنو له نږدې کیدو سره د مخالفو پارلماني غړو لپاره به دا له سیاسي اړخه ګټور وي چې د داسې یوه حکومت څخه چې د دوی په آند د ولس له ملاتړ څخه برخمن نه دی، ځان لیرې کړي. له بلې خوا د پارلمان د هغو غړو لپاره چې د کرزي حکومت د بیا ټاکل کیدو لپاره یوه اړینه وسیله بولي د حکومت پلوه ډلې په توګه پاتې کیدل هم ګټور دی. پورتنی څرګندونې دا تاییدوي چې یو شمیر پارلماني غړې په ټاکلې وخت کې د ځواک د انډولتیا د ارزولواو یا هم د مادي او سیاسي پانګو د ارزولو له لارې چې یوې او بلې خوا ته د رایه ورکولو له لارې تر لاسه کیدای شي پریکړه کوي چې د چا ملاتړ او یا د چا مخالفت وکړي.

دا باید ونه ویل شي، چې که څه هم چې د رایه ورکولو بیلګې تل او آن اکثراً د حکومت سره د خلکو د وفاداری او یا د حکومت سره د مخالفت له لارې ټاکل کیږي. ځینې وختونه د پارلمان هغه غړې چې ځانونه حکومت پلوه ګڼي هم د حکومت د مسودو څخه ملاتړ نه کوي لکه څرنګه چې په نږدې وختونو کې ولیدل شو چې د ټولټاکنو د قانون په اړه د کرزي د جمهوري ریاست فرمان د نظر په یووالي سره رد شو. په دې ځانګړې حالت کې د پارلمان غړو د هغو اندیښنو غږ اوچت کړ چې د ټولو افغانانو د ټاکنو د شکایتونو کمیسون چې را مینځ ته کیدل یې دقانون له مخې شونی شو، قومي او یا د نورو تمایلاتو ویره به رامینځ ته کړي چې بیا به ښایي د نړیوال ګډون له لارې هم په کرار نه شي. دغه ډول اندیښنو د حکومت په وړاندې د هغوی موجوده وفاداری ارزښت یې خورا لوړ کړ.[۱۰] د پارلمان د نورو غړو له خوا ددی کمیسون ردول د یوه شک پر بنسټ ؤ ځکه داسې انګیرل کیده چې دغه فرمان به په اساسي قانون کې د بدلون د راوستلو یوه لاره وي چې له مخې به یې کرزی ددریمې دورې لپاره خپل مقام خوندي کړي. په بله بیلګه کې کله چې ولسي جرګې د کابینې نوماندې یې رد کړل نو په پارلمان کې د کرزي د ملاتړو وکیلانو د موافقت د نه شتون له امله کرزی دخپلو ملاتړو سره د کړو ژمنو په پوره کولو کې په څرګنده توګه پاتې راغی. په پارلمان کې د افغانستان له سهیلي سیمو استازي په دوهمه مرکه کې هم خبره همدا وه د پارلمان نوموړی غړی چې په پخوانۍ مرکه کې د حکومت ملاتړی ؤ، اوس یې د کرزي لخوا کابینې ته د نوماندو پر ټاکنه یې کلکې نیوکې کولې.[۱۱]

په ټولیزه توګه په پارلمان کې د هغو استازو په شمیر کې څرګند زیاتوالی چې د مخالفې ډلې سره د یوځای کیدو غوښتونکې دي که څه هم چې د یوې

---

[۶] ولسي جرګه په رسمي ډول په ۱۸ کمیسونونو باندې ویشل شوې ده چې هر کمیسون یې د ۱۵ څخه تر ۲۵ تنو پورې غړي لری،هر کمیسون په خپلې ټاکلې شوې ځانګړی موضوع او ورپوری اړونده مسایلو ته رسیده ګي کوي او دا پری جبری دی چې د خپل مسلک د موضوع پورې اړونده مسودو په خاکو باندې بحث وکړی او بیا یې پارلمان ته راجع کړي. اما ددې سره سره هم د پارلمان په داخل کې رسمی ګروپونه وجود نلری مګر لکه څنګه چې په مقاله کې پرې بحث وشو د پارلمان غړو د غیر رسمی ګروپونو د جوړول لپاره په کراتو هلې ځلې کړې دی

[۷] ویلدر، ویشل شوی کور

[۸] انا وردسورت. «د ګټو ستونزه: د افغانستان په ولسي جرګه کې د جنسیت او سیاست موجودیت» (کابل: د افغانستان د څیړنې او ارزونې اداره، ۱۳۸۵) همدارنګه انا لارسن «د افغانستان نوې ډیموکراتیک ډلې : د ډیموکراسی راوستلو د تنظیم وسایل؟» (کابل: د افغاسنتان د څیړنې او ارزونې اداره، ۱۳۸۷)

[۹] په پارلمان کې د کابل ولایت وکیل سره مرکه

[۱۰] مرکه، د پارلمان غړی چې خپله ځان ته حکومت پلوه وایی

[۱۱] په پارلمان کې د افغانستان د جنوبي ولایت د یو وکیل سره مرکه

واحدې ډلې په توګه نه دي خو د ۱۳۸۸ کال د ولسمشریزو ټاکنو راهیسې کله چې غړو دا یې وپتیله چې پر اجرائیوي څانګې باید کنټرول وساتي، کیدای شي د افغانستان د پارلمان لپاره یو مثبت ګام وي. سره له دې له ټولټاکنو څخه دمخه پړاو کې زیات بدلونونه شونې برېښي او ډېر احتمال لري چې ترټاکنووروسته پړاو کې د پارلمان ډېر به یو ځل بیا یو ډېر ناڅرګند دریځ غوره کړي. سر بیره پردې باید د یو پیاوړې مخالف دشتون منفي ټکي هم په پام کې ونیول شي، چې په دې کې په افغانستان کې د سیاسي مخالفینو دا تاریخ ګډ دی چې ډلې د تاوتریخوالي ته په لمن وهلو او د قومونو تر مینځ د تشنج په رامینځ ته کولو کې ستره ونډه لوبوي، چې وروسته بیا کیدای شي د عامه دښمنیو لامل شي، د مرکو له مخې لږ تر لږه په دې درې ولایتونو کې خلک په دې اړه ډېر اندیښمن دي چې د یوې پیاوړې مخالفې ډلې شتون به د افغانستان د ټولنې نازک حالت لا خړ پړ کړي.[۱۲]

## په ولسي جرګه کې سیاسي ګوندونه

د سیاسي ګوندونو د اصطلاح څخه په افغانستان کې ګڼ مفهومونه اخیستل کیږي. افغانان په ورځینیو ویناوو کې دغه اصطلاح هغو سیاسي ډلو ته چې د مفکورو پر بنسټ سره توپیر لري نه کاروي بلکې دغه اصطلاح زیاتره د مجاهدینو په وخت کې د قومي او یوځي ډلو پر بنسټ رامنځته شوو لویو اسلامي ډلو لکه حزب اسلامي، جمعیت اسلامي او وحدت اسلامي لپاره کاروي.[۱۳] په پارلمان کې په غیر رسمي توګه د دغو ګوندونو استازیتوب کیږي او هغوی ډېر ځلي ددې هلې ځلې کوي چې په رښتینې توګه خپل غړې وټاکي. په ولسي جرګه کې دغړو د نماینده ګۍ له مخې د حزب اسلامي ګوند تر ټولو ډېر تنظیم شوی ګوند ګڼل شوی، په داسې حال کې چې د همدې ګوند د یوه استازې د وینا له مخې د یوې واحدې ډلې په توګه د غړو په یوځای کیدو کې تر اوسه هم ستونزې شتون لري، هغه وایي:

> *په پارلمان کې زه د حزب اسلامي ګوند یواځینی استازی نه یم. هلته زمونږ د ګوند له ۲۵ څخه تر ۲۸ تنه استازې شتون لری، که څه هم چې زمونږ مفکوره یوه ده، خو په خپلو منځو کې ښې اړیکې نه لرو او په پارلمان کې په ګډ ډول کار نشو کولای. په پارلمان کې د ډېرو نورو ګوندونو استازي هم شته دي خو هغوی هم له خپلې ډلې سره ښې اړیکې نه لري، ځکه چې د پارلمان غړیتوب یو مهم مسولیت دی او مونږ دا غوره ګڼو چې د خپلو ګوندونو پر ګټود خپلوموکلینو ګټې لوړې وګڼو*[۱۴]

په پارلمان کې پر ګوندي استازیتوب د موکلینو غوره ګڼلو خپور تمایل د پارلمان د ګڼ شمیر هغو غړو له خوا چې په ګوندونو پورې تړلې دي څرګندشو،چې دا کیدای شي د هغې عامه ناخوښی چې خلک یې د ګوندونوپه اړه لري او هم د هیواد په کچه په جګړو کې ددې ګوندونو د تړاو د په پام کې نیولو سره رښتینې اوسره له دې ستراتیژیکې هم وي. د دې وینا سره سره چې د زیاترو پخوانیو جهادي ګوندونو د ځواک مرکز د پارلمان په د ننه کې شتون نه لري، بلکې دغه ګوندونه په ولایتونو کې چیرې چې هغوی د شوروي ځواکونو په وړاندې جګړه کړې د خلکو په وړاندې خپل نفوذ ته ادامه ورکوي. د پارلمان دغړو په آند دغه ګوندونه او مشران یې د پارلمان څخه بهر او په عمومي کچه په ټولنه کې د هغوی د ملاتړو د پراخو شبکو، او د مشرانو د په زړه پورې شخصیتونو او شهرت له امله په خلکو کې د پام وړ اغیزه لري. همدا راز دغه ګوندونه د رایه ورکونکو د رایو د سمبالتیا په موخه د ځواک له ځایي دلالانو سره هم پیاوړې ټولنیزې اړیکې لري.

په زړه پورې خبره داده چې په پارلمان کې یو شمیرمخالف غړې په دې باور دي چې د ولسي جرګې د لومړي پړاو په پیل کې ددې ګوندونو ځینو مشرانو په پارلمان کې ډېر مهم رول درلوده خو په وروستیو کې د هغوی ځینو سیاسي پریکړو لکه د ۱۳۸۸ کال په ټاکنو کې د کرزي څخه د ملاتړ له کبله هغوی د پارلمان د غړو په مینځ کې یې خپل پخوانی ملاتړ یو څه له لاسه ورکړ. د پارلمان د دې غړو په وینا دا په حقیقت کې د ګوندونو د مشرانو او د پارلمان د هغوغړو تر منځ د مخ پر زیاتیدونکې خړپړتیا له امله ده چې په لومړي سر کې یې د هغوی د ملاتړو په توګه ټاکنیزه مبارزه کړې وه. د پارلمان هغه غړې چې د ګوندونو د ملاتړ له لارې پارلمان ته ټاکل شوې وو په زیاترو حالاتو کې لیدل شوي چې ددې هڅه کوي څو په ولسي جرګه کې د خپلواکو نوماندو په بڼه څرګند شي. ددې خبرې لومړی دلیل دادی چې هغوی ته دا ډېره اړینه ده چې د خپلو موکلینو د ګټو د استازې په سترګه ورته وکتل شي او دوهم دلیل یې د پارلمان د هغوغړو تر منځ چې په یوه ګوند پورې تړاو لري خپلمنځي سیالي ده چې هر یو غواړي چې د خپل ګوند په داخلي پریکړو کې ستررول ولوبوي.

د ۱۳۸۹ کال په ټولټاکنو کې به ګوندونه د پارلمان ددې ډول سرکښو استازو د ملاتړ څخه لاس واخلي او هڅه به کوي چې ددااسې نویو نوماندو ملاتړ وکړي چې د هغوی د ګوندي ګټو ملاتړ کوونکې وي. د پارلمان د دوو غړو ویناوې دغه موضوع لا هم روښانه کوي:

> *مونږ د پارلمان هغه یوشمیر استازې یو چې په تیرو پارلماني ټاکنو کې د ولسمشر د مرستیال کریم خلیلي له خوا د ملاتړ له لارې په ټولټاکنو کې بریالي شوو.خو دهغه سره مو اوس اړیکې بدلې او خرابې شوي دي. نوموړی اوس په ولایتي شورا کې له خپلو ملاتړو سره ښې اړیکې لري. مونږ داسې احساس کوو چې د ګوند مشر د قدرت دلال دی او هغه نه غواړي چې مونږ ورسره ښې اړیکې ولرو. اوس مونږ د هغه په ګوند پورې تړاو نه لرو.*[۱۵]

> *د ګوند مشران ورځ تر بلې ډېر دروغجن ثابتیږي، اوس دغه مشران په پارلمان کې د پنځو څخه زیات ملاتړ کوونکې نه لري. هغوې پیسې لري. که هغوی پیسې ونه لري نو هیڅوک به یې نه ملاتړ وکړي او نه به ورته رایه ورکړي.*[۱۶]

پورتنۍ دواړه ویناوې څرګندوي چې د ګوندونو د مشرانو څخه ملاتړ څرنګه د کمیدو او سرسري کیدو په لور روان دی. لومړۍ وینا څرګندوي چې څرنګه د غړو او د هغوې د مشر ترمنځ خپلمینځي اختلافات په ولسي جرګه کې د ګوند کمزورتیا د زیاتیدو سره مرسته کړې ده. نورې څېړنې به دا

---

[۱۲] د نومړي څېړنې د ترسره کولو ددوهمې لارې پواسطه په بلخ، کابل او پکتیا کې د رایه ورکونکو سره ترسره شوې مرکې

[۱۳] په غربي نړۍ کې هم د افغانستان ګوندونه په سمه مانا نه دي پیژندل شوي، دا ځکه چې هغوې زیاتره وختونه په یوې پیژندل شوې مهمې څېرې باندې تمرکز کوی او دګوند کړنې او پریکړې نږدې ټولې یواځې دهغوې د مشر سره په شخصي اړیکو باندې ولاړې دي. په دې مقالې باندې د زیاتو معلوماتو لپاره وګورۍ، توماس رټیګ، «اسلام پال، چپ اړخه او د مرکز تشه» (کابل: کونارد اډینور سټیفټنګو ۱۳۸۵) او لارسن، «د افغانستان نوې ډیموکراتیک ګوندونه.»

[۱۴] په پارلمان کې د غزني ولایت د یو وکیل سره دوهم ځل مرکه

[۱۵] په پارلمان کې د کابل ولایت د وکیل سره مرکه

[۱۶] په پارلمان کې د کاپیسا د ولایت د وکیل سره ددوهم ځل مرکه

روښانه کړي چې آیا په عمومي توګه دغه حالت د نورو ګوندونو په برخه کې هم لیدل کیږي.

د خپلو ګوندونو له مشرانو څخه د ځینو پارلماني استازو خوابدي په حقیقت کې د پارلمان د هغواستازو چې د ګوند مشران دي او د هغو استازو د واک او نفوذ تر مینځ توپیر څرګندوي چې د هغوی د ملاتړو په توګه یې ټاکنیزې مبارزې کړې دي، او د کابینې پرغړو او نورومخورو حکومتي چارواکو باندې دومره نفوذ نه لري سره له دې چې د رسمي دندې له مخې د پارلمان ټول غړې سره ورته دي، خو په ولسي جرګه کې پر سیاست او کړنو د نسبي اغیزې له مخې د بیلابیلو لیکو د استازو په توګه څرګندیږي. په اټکلي توګه ویلای شو چې: "لومړۍ لیکه" یا "ډله"د پارلمان هغه غړي دي چې د ګوندونو مشران دي چې تر دې دمه په ولسي جرګه کې له پیاوړي نفوذ څخه برخمن دي، "دوهمه لیکه" یا "منځنۍ ـ کچه" یا "ملاتړ کوونکي"استازي هغه غړي دي چې د ډلو د مشرانو په څیر شهرت او نفوذ نه لري خو له دې سره سره زیاتره وخت په رسنیو کې څرګندیږي،دوی دخپلې شخصي پانګې سرچینې لري چې ښایي دګوندونو ملاتړ له ځانه سره ولري او یا یې ونه لري، دریمه لیکه چې په اصطلاح کې ورته د پارلمان "عادي" غړې هم وایي د پارلمان هغه غړي دي چې ډیرې محدودې مالي سرچینې لري، د خپلو ټولنو پرته په بل ځای کې دومره پیژندل شوې څیرې نه دي او ښایي د ټاکنیزې مبارزې مالي او ټولنیزو یا سیاسی تیاریو لپاره پر ګوندونو تکیه ولري.[17] د بیلګې په توګه په پارلمان کې د پکتیا یوه استازې په یوه مرکه کې په ډاګه وویل چې "په پارلمان کې د یوه ګوند د استازي ځواک د ۱۰ تنو عادي پارلماني استازو سره برابر دی". په بل ځای کې د لوګر ولایت یو بل غړي چې ځان یې د پارلمان د منځنۍ کچې استازی ګڼه داسې یې وویل :

> *زه د پارلمان یو منځنی غړی یم چې نه ډیر اوچت مقام لرم او نه هم په دومره ټیټ مقام کې یم. ځینې وزیران ما په جهاد کې د ګډون له امله پیژني او هغوې ځینې وختونه ما هغه وزیرانو ته چې ما نه پیژني معرفي کوي.*[18]

د ګوندونو د مشرانو(لومړۍ لیکې) په وړاندې د منځنۍ کچې (ددوهمې لیکې) له لورې په پارلمان کې د هغه درک شوې لوړ مقام له کبله په کوم کې چې دوی (دوهمه لیکه) او عادي پارلماني استازي(دریمه لیکه) کومه ونډه نه لري خوابدي مخ په زیاتیدو ده ، او دغه مشران د واک پر سر له کابینې او کرزي سره پر ځینوموضوعګانو لکه د نوې کابینې د نوماندو پر سر چنې وهي. په دې حالت کې ویل کیږي چې د پارلمان هغه غړي چې د ډلو ملاتړ کوونکې وو هغو نوماندانو ته چې ددوی د ډلو د مشرانو لخوا ورسره معامله شوې وه د خپلو رایو د ورکولو له امله په غوسه وو او ددوی د شخصي څرګندونو پر بنسټ د خپلو مشرانو له خوا ټاکل شوو نوماندو ته یې رایه نه ده ورکړې. اوس نو په واقعیت سره داسې نښې نښانې شتون لري چې د پارلمان د دوهمې لیکې دغه سرکښه غړې د خپلو پخوانیو مشرانو په وړاندې د دریدلو لپاره یوه نوې ډله جوړوي، چې د هغې له ډلې څخه یوه هم په نږدې وختونو کې د راه نو (نوې لار) په نامه نوې رامینځ ته شوې ډله ده.[19] ددې ډلې غړي ادعا کوي چې د هغوی د پخوانیو ګوندونو مشران ددوی د بیا ټاکل کیدو څخه د مخنیوي لپاره عملي هڅې کوي. البته دا به وروسته څرګنده شي چې آیا د پارلمان دغه غړي د هغوی د ګوندونو له مالي او شبکه ایي ملاتړ پرته یو ځل بیا خپلې څوکۍ ګټلی شي او که نه . اما دوی به هم د پارلمان د هغو استازو په څیر چې غواړي د خپلواکو نوماندنو په توګه ودریږي دپام وړ ستونزو سره به مخامخ وي. که څه هم چې ددوهمې لیکې پارلماني استازې خپلې شخصي سرچینې او ټولنیزې اړیکې لري د خپلې دریمې لیکې د سیالانو په پرتله له خپلو ګوندي مشرانو څخه په جلا کیدنې کې د ښه چانس شاهدان دي. داسې ښکاري چې د پارلمان د لومړنۍ دورې په اوږدو کې، دهغو سرچینو او شهرت له امله چې د پارلمان غړو په خپل واک کې درلودل د دوهمې لیکې د ډلې اندازه د ودې په حال کې ده او د دریمې لیکې استازې په دې لیکه کې ورزیاتیږي[20]

## د ۱۳۸۸ کال د ټولټاکنو اغیزې

د ۱۳۸۸ کال ولسمشریزو او ولایتي شورا ټولټاکنو د ولسي جرګې په داخلي سیاستونو باندې قوي اغیز پرځای پریښي دي. چې یوه بیلګه یې د ټاکل شوو قومي ډلو پورې اړه لري: سره له دې چې د ولسي جرګې د کار له پیل څخه تر دې دمه قومي وفاداری د ګنو ډلو تر منځ بدلیږي رابدلیږي، د اوسنیو قومي تړونونو یو شمیر یې د ۱۳۸۸ کال د ټولټاکنو له لارې د قومي مشرانو د سیاسي معاملو سره اړیکه لري. د جمهوري ریاست د ټولټاکنو څخه دمخه د قومي لږکیو لکه تاجک،هزاره او ازبک مشرانو چې زیاتره یې د ملي متحدې جبهې غړې هم وو د حکومت په وړاندې د یو پیاوړي بلاک د جوړولو لپاره یې د پام وړ هڅه وکړه. د بلاک غوښتنه دا وه چې ددوی نوماند عبدالله عبدالله باید ټولټاکنې وګټي[21]. د حکومت په کلیدي پوستونو کې د قومي اقلیتونو تر منځ د قدرت د شریکولو اړتیا، اوپه حکومت کې د فساد د لوړې کچې د کمولو په شان یو لړ مسایلو دغه مشران سره یوځای کړې وو. که څه هم چې دغه بلاک د خپلو غړو ترمنځ د قومي شخړو د تاریخ او دهغوی د سیاسي ګټو په څیر ستر توپیرونو په حلولو بریالی نه شو خو دردونکې پایله یې درلوده. د بیلګې په توګه دهغوی ترمنځ د ددې مخالف بلاک د مشر د ټاکلو او دا چې د ټولټاکنو د ګټلو په صورت کې باید په حکومت کې چا ډیر قدرت تر لاسه کړی وای، د مسایلو په سر اختلافاتو شتون درلوده. د پارلمان د ځینو غړو د څرګندونوپربنسټ ځینې غړي دکرزي دهغې ژمنې څخه راضي وو چې له مخې یې هغه مشرانو ته چې ورسره د یو ځای کیدلو پریکړه یې کړې وه ورته به ډیر سیاسی اعتبار ورکړل شي نو په دې توګه د بلاک ځینې مخور کسان د کرزي سره یو ځای شول په داسې حال کې چې ځینې یې د عبدالله سره پاتې شول.

د ۱۳۸۸ کال له ټولټاکنو څخه وروسته په ولسي جرګه کې د مخالفینو اندازه او یا د هغو پارلماني استازو شمیره چې غوښتل یې خپل ځانونه په دې شان ډلو وویشي زیاته شوې وه. ددې ډیروالي تر شا یوشمیر مسایل پراته دي لکه : په تیرو پنځو کلونو کې د کرزي له حکومت څخه نا رضایتي ، له پورته څخه ښکته د قومي ډلو د ځواک جوړښت، په حکومت کې د فساد موجودیت، او د پارلمان د ځینو غړو د څرګندونو له مخې د ټاکنیزو مبارزو په بهیرکې د کرزي او د ځینو قومی ډلو د مشرانو لکه عبدالرشید دوستم، محمد محقق، مارشال فهیم، عبدالرسول سیاف، عبدالکریم خلیلي او

---

[17] دا یو اټکلي ډلبندي ده چې د پارلمان د غړو په کړو وړو باندې د ډیرو ستونزو د اغیزو سپیناوی په کې ګډ نه دی. مګر ددې سره سره هم دهغوی د انګیزو او ارادو یو پراخ انځور وړاندې کوي. او په وروستیو څیړنیزو مقالو کې به دا موضوع د ځانګړو معیارونو په نظر کې نیولو سره د ترتیب شي

[18] په پارلمان کې د لوګر ولایت د یو وکیل سره دوهم ځل مرکه

[19] راه نو د پارلمان د غړو هغه ډله ده چې زیاتره یې د هزاره قوم پورې اړه لري او په تیرو پارلماني ټولټاکنو کې یې د خلیلي او حاجي محمد محقق ( د حزب وحدت اسلامي افغانستان او د حزب وحدت اسلامي مردم افغانستان څخه په ترتیب) د ګوندونو لخوا ملاتړ کیده. د راه نو د هغو غړو په وینا چې مرکې ورسره تر شوې، هغوی د تیرو دوه کلونو په دوران کې د پارلمان دغړو او د هغوی د ډلو د مشرانو تر منځ د عدم توافقاتو امله تر دې وروسته د خپلو ګوندونو ملاتړ نه کوي. په نتیجه کې ویلای شو چې دوی په دې هڅه کې دي چې په راتلونکو ټولټاکنو کې په خپلواک ډول ودریږي. دغه ډله د ۱۳۸۸ کال د جمهوري ریاست د ټولټاکنو په وخت رامنځته شوی ده.سره له دې چې ددې ډلې رامنځته کیدنه کیدای شي د ټولټاکنو څخه دمخه د دوباره ډلبندیو لپاره یوه لاره وي اما دا حالت په ځانګړي توګه په پارلمان کې د هزاره غړو په منځ کې د ګوندونو د مشرانو په وړاندې د سرکښی څرګندونه هم کوي.

اسماعیل خان تر منځ پېټ ترونونه. د پارلمان ډیر غړي له دي ترونونو څخه د باندي پرېښودل شوي وو، دي کار ځیني غړي یي دي ته اړ ایستل چي د مخالفي ډلي سره یوځای شي. د پارلمان دهغو غړو بیلگه چي د کرزي ملاتړ کوونکو مشرانو څخه یي ځان لرې کړ، په ځانگړې توگه په هزاره وکیلانو کي، د هزاره او کوچیانو تر منځ د ځمکي د لانجي له امله وه چي د هزاره قومي ډلي تر مینځ سیاسي مشران سره ویشي[۲۲]. تر دې وروستیو وختونو پورې د پارلمان هزاره وکیلان په دې اړه اندېښمن دي چي کرزي او دهغوی خپلو مشرانو ددې لانجي د حل لپاره کافي هلي ځلي نه دي کړي او دې خبرې ته یې اشاره وکړه چي سره له دې چي د هزاره ډلومشرانو په تیرو اونیو کي یې د دې موضوع په اړه ډیر څه کړي دي. دا به وروسته څرگنده شي چي آیا د پارلمان دغه غړي به بیرته د خپلو گوندونو له مشرانو څخه ملاتړ اعلان کړي او که یا به د خپلواکه پاتې کیدو هڅه وکړي. په پارلمان کي د هزاره او کوچي وکیلانو په آند چي ددې څېرني لپاره ورسره مرکه ترسره شوې وه دغه مسأله د سیاسي شخصیتونو لخوا د خپلو شخصي گټو د ادامې لپاره ټاکل شوې وه. لکه چي یوه وکیل څرگنده کړه:یو وکیل وویل چي "ځیني داسي سیاسي لوبغاړي دي چي د بهسودو د اوسیدونکو او کوچیانو تر مینځ د واټن د ساتلو لپاره هڅه کوي." سره له دې چي د پارلمان کوچي او هزاره وکیلان ددې لانجي د حل کولو غوښتونکي دي هغوی دا اندېښنه لري چي دا لانجه د قدرت د خاوندانو ترمنځ په یوه سیاسي لوبه اوښتې ده.

## پارلماني ډلي

د پارلماني ډلو د رامنځته کیدو حکم د ولسي جرگي د موجودیت په لومړي کال د پارلماني کړنلارې په مقرره کي د عمومي بحثونو د زیاتي اغیزمنتیا او تنظیم په موخه د یو رسمي میکانیزم په توگه رامنځته شو.[۲۴] د پارلمان غړو د ځانگړو محدودیتونو( د بیلگي په ډول د قومي، سیمه ایزو، ژبني، جنسیتي او نورو شرایطو پر بنسټ د ډلو د رامنځته کیدوڅخه مخنیوی) په پام کي نیولو سره ددې اجازه یې درلوده چي د ۲۱ یا د هغې څخه د زیاتو غړو ډلي رامنځته کړي[۲۵]، په لومړي سر کي د پارلمان د غړو له خوا څلور پارلماني ډلي جوړې او ثبت شوې[۲۶]، دغه ډلي داړونده غړو د شالید، گټواو د مهمو نخبگانو پر بنسټ رامنځته شوې وې. خو دغه ډلي د یو لړ دلایلو لکه: د گنو ټاکنیزو حوزو د وکیلانو د گټو تر منځ د ټکر، په ولسي جرگه کي پر موضوعاتو د بحث کولو د پارونکي ماهیت ، او د ورته پارلماني ډلي د غړو د بیلابیلو قومي هویتونو او سیاسي اړیکو له امله له منځه ولاړې[۲۷]، اوس مهال په پارلمان کي یواځې د دریمي لیکي ډله (خط سوم) فعاله ده کوم چي د تیرو څلورو اصلي ډلو څخه وروسته رامنځته شوې ده. دغه ډله د پارلمان سره نږدې یو دفتر لري چیرې چي هغوی د خپلو کتوونکو کوربه توب کوي او د اړونده پارلماني موضوعاتو په اړه بحثونه کوي چي مالي لگښت یې د ډلي د غړو د شخصي پیسو له لارې کیږي[۲۸]، د گروپ غړي په ټولیزه توگه یو عصري او ډیموکراتیک دریځ لري او د سترو قومي ډلو سره تړلي نه دي. د هغوی زیاتره په روانه انگلیسي ژبه خبرې کوي او د افغاني رسنیو او د نړیوالې ټولني د غړو سره په دومدار ډول اړیکه لري.

که څه هم چي دغه ډله اوس د خپل د رامینځ ته کیدو د لومړیو وختونو په شان هومره فعاله نه ده. ددریمي لیکي په شان د ډلو د مخ په ودې کمزورتیا په اړه لاندې دلایل وړاندې شوي دي.لومړی دلیل یې د ډلي د غړو د نظریاتو او گټو تر منځ د توپیرونو شتون دی د بیلگي په ډول کله چي په پارلمان کي د نوي کابیني د تائیدولو د بهیر په شان حساسه موضوع راشي نو د پارلماني ډلو غړي په خپلو کي یوې گډې پریکړې ته سره نه راځي دا ځکه چي د قومیت،ژبې، سمتي، مذهبي او د غیر پارلماني فعالینو سره د پارلمان دغړو سیاسي اړیکي د هرغړي گټي په بیلابیل ډول اغیزمنوي. دوهم د ډلي دغړو او دمشر تر منځ د اعتماد نشتوالی دی. د ډلي غړي دخپل د مشرانو د وړتیا له کبله چي کیدای شي چي له یوې پریکړې څخه ناوړه گټه پورته کړي او یا رایي د خپلو شخصي گټو لپاره وکاروي تل په ویره کي دي. د بیلگي په ډول د سږني کال په پیل کي کابیني ته د نویو نوماندو د تاییدولو، یا وزیرانو ته د نه اعتماد د رایي د ورکړې لپاره ولسي جرگي ته د هغوی د راغوښتلو، یا د رایه ورکولو پورې نورو اړونده مسایلو په بهیر کي د ډلو غړي داسي فکر کوي چي ښایي د هغوی د ډلي مشر د خپلو شخصي گټو د تر لاسه کولو په معاملو او چنو کي به د دوی د رایو پر سر ژمني وکړي. د پارلمان یو غړي وویل:

> *د پارلماني ډلو مشران پر خپلوغړو ځیني شیان تحمیلوي چي دا کارډلي له منځه وړلی شي. د بیلگي په ډول که چیرې د یوې ډلي مشر وغواړي چي یو وزیر وټاکي نو غړي یي په دې اړه هیڅ نه شي کولی...... مونږ باید د ډلي د مشر قربانیان نه اوسو[۲۹]*

سر بیره پردې د پارلمان زیاتره غړو دا څرگنده کړه چي مالي ستونزې د پارلماني ډلو د کمیدو یو بل مرسته کونکي لامل دی. د پارلمان زیاتره غړو وویل چي گروپونه د خپلو کارونو د ادامې لپاره یې پیسو ته اړتیا لرله تر څو د خپلو غونډو او د میلمنو سره د کتني لپاره یو دفتر په کرایه ونیسي په داسي حال کي چي هغوی د دې لگښتونو د پوره کولو توان یې نه درلود. د پارلمان یو غړي پر دې موضوع یې رڼا واچوله:

پارلماني ډلي یواځې په نامه رامنځته شوې وې له هغوی څخه ملاتړ نه کیده. د هغوی دفعاله پرمخ بیولو لپاره کومه دلچسپي موجوده نه وه... ما پخپله هم د نړیوالې ټولني څخه ددې غوښتنه وکړه چي د پارلماني ډلو ملاتړ وکړي خو نه حکومت اونه هم نړیوالې ټولنې د هغوې ملاتړ وکړ. دغه ډلو پیسې او دفترونه یې نه درلودل نو له همدې امله هغوی و نشو کړای چي خپلو کارونو ته ادامه ورکړي.[۳۰]

---

[۲۰] د گوندونو د پخوانیو ملاتړ کوونکو او د هغوی د لوړ رتبه مشرانو تر منځ اړیکي به په راتلونکي څېرنیزو مقالو کي چي ټاکل شوې ده د ۱۳۸۹کال په اوړي کي به خپرې شي په مفصله توگه وڅیړل شي.

[۲۱] د ۱۳۸۸ کال د جمهوري ریاست د ټولټاکنو راهیسي عبدالله عبدالله د بدلون او هیله (تغیر و امید) په نوم ځانته بیله ډله رامنځته کړه. ملي متحده جبهه تر اوسه هم دعبدالله څخه ملاتړ کوي. د ددې دوه ډلو ترمنځ توپیر څرگند نه دی.

[۲۲] دا په حقیقت کي داسي یوه مسأله ده چي د پخوا څخه شتون لري او په نږدې وختونو کي یې د هزاره قومي ډلی دهغو مشرانو چي د کرزي سره یې د ددې موضوع د حل کولو لپاره موافقه کړې د بیلگي په ډول د خلیلي او محقق او په پارلمان کي د هغوی د نماینده گانو تر منځ په واټن راوستلو کي مرسته کړې ده. ددې مسألې په اړه داسي فکر کیږي چي د عبدالرحمان خان د پادشاهی ددور څخه راپاتې د ه چا چي په مرکزي اسیا کي یې د شیعه ټولنو په مقابل کي پالیسي(تدابیر) نیول. دغه لانجه د ۱۳۸۰ کال څخه وروسته یو ځل بیا څرگنده شوه او هغه وخت یې شدت وموند کله چي په ۱۳۸۷ کال کي د میدان وردگو د ولایت د بهسودو د ولسوالي د هزاره اوسیدونکو او کوچیانو تر منځ جنگ پای ته ورسیده. په ۱۳۸۸ کال کي حکومت د هزاره د مشرانو د فشارونو په اساس په مسأله کي منځگړی شو او ددې هڅه یې وکړه تر څو کوچیان دې ته اماده کړي چي دې ساحې ته د داخلیدو څخه ډډه وکړي. دغه پلان هومره بریالی نه وه او کله چي د جمهوري ریاست د ټولټاکنو پوخت هزاره مشران لکه خلیلي او محقق د کرزی سره ملگري شول نو د پارلمان ډیر شمیر هزاره وکیلان یو څنگ ته شول ځکه هغوې ته دا د منلو څخه لرې وه چي د کرزي حکومت څخه ملاتړ وکړي کوم چي د مسألې د حل لپاره یې کافي هلي ځلي نه دي کړي. ددې لانجي د رسیده گي لپاره د کلیدي هزاره مشرانو اوسنی کړنې کیدای شي چي د هزاره مشرانو او په پارلمان د هغوی د ځینو غړو ترمنځ د ددوباره یووالي لپاره گټور ثابت شي.

[۲۳] په پارلمان کي د کوچیانو د یو نماینده سره مرکه. په زړه پورې خبره داده چي ددې مسألی په اړونده د محمد حنیف اتمر( دهغه وخت د کورنیو چارو وزیر)، خلیلي(د جمهور ریس دوهم مرستیال) او د افغانستان د ملي اردو ستر درستیز بسم الله خان په گډ کنفرانس کي، اتمر هم په وسله والو مخالفینو او ځینو سیاسي شخصیتونو باندې دا تور ولگاوه چي هغوې دغه مسأله د خپلو شخصي گټو لپاره کاروي.

[۲۴] د کړکیچ نړیواله ډله، ؛«د افغانستان نوي قانون جوړونکي قوه»

[۲۵] ۱۳ ماده، د پارلماني کړنو اصول، د کړکیچ نړیواله ډله، د افغانستان نوې مقننه قوه

[۲۶] په ۱۳۸۶ کال کي څلورگوني گروپونه په دې ډول وه: د استقلال ملي( ملی خپلواکي) گروپ د ۲۳ غړو په لرلو سره چي مشري یې سید مصطفی کاظمي کوله، د نظارت ملي(ملی نظارت) گروپ د

دغه وینا د پارلمان د ملاتړ کوونکو لکه حکومت او نړیوالې ټولنې څخه د مالي ملاتړ په برخه کې د پارلمان د ځینو غړو د توقعاتو کچه ښیې. په زړه پورې خبره داده چې هغوی په عیني حال کې داسې فکر نه کوي چې هغه مرستې چې دوی به یې تر لاسه کړي د دوی پر خپلواکۍ به څومره اغیزه ولري. سره له دې چې ددې امکان نشته خو ددې همکارۍ نه شتون د اجراییه او مقننه قوې ترمینځ اړیکو باندې د پارلمان دغړو نا خبرتیا څرګندوي، لکه اوس چې پر پارلمان د اجراییه قوې د کنترول موضوع د پارلمان دغړو تر تودو بحثونولاندې ده. له بلې خوا دا په حقیقت کې پر هغې لارې یوه عمومي نیوکه ده یوه عمومي لاره ده د کوم پواسطه چې د پارلمان د غړو څخه د ضروري منابعو د برابرولو د مفکورې پرته د یو شمیر دندو د پرمخ وړلو هیله کیږي.[31]

## ۳. د ۱۳۸۹ کال ټولټاکنې: تیارۍ او اندیښنې

ددې څېړنې لومړنۍ موندنې څرګندوي چې د پارلمان غړو له وړاندې نه د راتلونکو ټولټاکنو لپاره یې زیاتې تیارۍ نیولې دي. د بیلګې په ډول د پارلمان غړي د رایه ورکوونکو سره په نږدې اړیکه کې دي، خپلو ټاکنیزو حوزو څخه یې لیدنې زیاتې کړې دي، د راډیو اوټلویزیون له لارې په خپریدونکو بحثونو کې ګډون کوي، او د خپلې خپلواکۍ د ښودلو لپاره د حکومت پر کړنو او پالیسیو په ازاده نیوکې کوي. د پارلمان نږدې ټولو هغو غړو چې ددې څېړنې لپاره ورسره مرکې ترسره شوي دا منلې چې د وړې د میاشتې په ټولټاکنو کې به بیا مبارزه کوي.[32] خو ددې سره سم یې په راتلونکو ټولټاکنو کې د پراخو درغلیو د شتون، د رایو د پیرودلو او ناامنیو په اړه یې د پام وړ اندیښنې هم څرګندې کړې.

### د دوهم ځل مبارزې انګیزې

حکومتي پیژندلو شوو استازو ته د امنیتي ګواښونو او د رایه ورکونکو د غوښتنو د پوره کولو لپاره د اړوندو لګښتونو سره سره، د پارلمان د استازو لپاره په ټاکنو کې د دوهم ځل ګډون لپاره یو شمیر د پام وړ هڅوونکې یا انګیزې شته. په دغو انګیزو کې د پام وړ سیاسي نفوذ ؛ په ملي او ځایي کچه د مهمې ونډې درلودلو وړتیا، یو ښه معاش، رایه ورکوونکو ته د خدمت کولو له لارې د قوي ملاتړو تر لاسه کولو امکان، د ګوندونو، لوړ رتبه چارواکو، او نړیوالې ټولنې سره د اړیکو رامینځ ته کول، او د دې مقام څخه د عدلي تعقیب څخه د معافیت تر لاسه کول شامل دي.

د ټاکنو لپاره د نوم لیکنې د نیتې له را رسیدو وړاندې کله چې د پارلمان له غړو څخه د د بیا نومولو لپاره پوښتنه وشوه، سره له دې چې د پارلمان زیاترو اوسنیو غړو وویل چې که رایه ورکونکې ورڅخه غوښتنه وکړي نو دوی به بیا ځان ونوموي. د پارلمان نږدې ټولو غړو دا هم وویل چې هغوی په تیرو ټولټاکنو کې د خپلو شخصي ارزوګانو لپاره ځان نهٔ نوماند کړی بلکې یواځې او یواځې د رایه ورکوونکو په غوښتنه یې ټاکنیزه مبارزه ترسره کړې وه. پداسې حال کې چې دا خبره په افغانستان کې په ټولو ټولټاکنو کې د ټولو نوماندو لخوا ویل کیږي په یوه هڅه کې چې نوماندې غواړي د رایه ورکوونکو ددې تورونو څخه چې ګواکې نوماندې په ټولټاکنو کې د خپلو شخصي بریاوو او ګټو لپاره دریږي ځان بچ کړي، د هغو سیاستوالو لپاره چې د دوهم ځل مبارزې تمه لري یو بل عنصر هم موجود دی چې هغه د خلکو د مشر په توګه د مسوولیت احساس دی.

زه لا تر اوسه د نوماند کیدلو او نه کیدلو په اړه ډاده نه یم، خو خلک وایي چې زه باید د هغوی وکیل واوسم، او که چیرې زه په ټولټاکنو کې مبارزه ونه کړم هغوی به نا امیده شي.نو بیا به هغوی چیرته ولاړ شي؟[33]

دا په حقیقت کې د ولسي جرګې دغړوله خوا ولسي جرګې ته د خلکو د کور په توګه د کتلو حالت څرګندوي چې کیدای شي تر یوه حده له دې کبله وي چې دغه غړې ددې برعکس چې انتصاب شوي وي د خلکو د رایو له لارې ټاکل شوې دي نو له همدې کبله دی چې له ډیر زیات عامه مشروعیت څخه برخمن دي دي[34] د پارلمان غړو هم دغه ټکی یې په ټولیزه توګه د حکومت څخه د ځان د بیل ښودلو لپاره هم کارولی دی.

په داسې حال کې چې د پارلمان غړي د کابینې او د حکومت د انتصابي ځانګو څخه پرخپل بیلوالي ټینګار کوي سره له دې هم د پارلمان غړو په زیاتر مرکو کې دا روښانه کړه چې هغوی خپلو رایه ورکوونکو ته د خدمتونو په برابرولو کې په وزارتونو کې د خپلو شخصي اړیکو څخه کار اخلي. په حقیقت کې په زیاتره ترسره شوو مرکو کې د پارلمان غړو د وزیرانو او د وزارت له معیینانو سره خپلې لیدنې د خپلو رایه ورکونکو د ستونزو د حل لومړني وسایل وګڼل. په دغو لیدنو کې ځینې وختونه داسې هم کیږي چې پخپله د پارلمان غړي د رایه ورکوونکو سره په ګډه وزارتونه ته ورځي. په همدې ډول داسې ښکاري چې د پارلمان غړې ددرې مختلفو خووا څخه د سیاسي ګټو د تر لاسه کولو لپاره په ډیر دقت سره یو انډول کوونکی کار تر سره کوي اما دا کار د خپلو دریځونو په بدلولو او رابدلولو سره تر سره کوي، کوم دریځونه چې د پارلمان غړي یې په یو وخت خپلولی شي خوبیلابیلو لورو ته په بیلابیل ډول ټینګار کوي: لکه حکومت ته یو ښکاره مخالف، د حکومت څخه د هغوی د بیلتون په اړه ډیر حساس تویپرونه، او دا احساس چې هغوی تر اوسه هم په هغه درجه کې قرار لري چې هغوی د خدماتو د برابرولو او د مرستو د توزیع کولو ټولو مهمو شبکو ته لاسرسي لري.[35]

۲۳ غړو په لرلو سره چې مشري یې د انجینیر محمد عاصم کوله، د ترقي خوا(پرمختګ غوښتونکو) ګروپ د ۲۲ غړو په لرلو سره چې مشري یې محمد نعیم فراهي کوله او د افغانستان ډله د ۴۱ غړو په لرلو سره چې مشري یې میرویس یاسیني کوله، وګورئ د ولسي جرګې اداري بورد، ۱۳۸۶)

[27] په پارلمان کې د وردګو د ولایت د یو غړي سره مرکه

[28] په پارلمان کې د ددریمې لیکې ګروپ غړو سره مرکې

[29] په پارلمان کې دکابل ولایت د یو غړي سره مرکه. سره له دې چې وزیرانو او نورو لوړرتبه منصبونو ته رایه ورکول د پټې رایه ورکونې په طریقه ترسره کیږی اما په دې حالت کې ځواب ورکونه هغه فشارونو ته راجع کیږي چې د پارلمانی ډلو د مشرانو له طرفه په غړو باندې یو ځانګړي کاندید ته رایه ورکونې باندې اچول شوی دی. ځینو نورو ځواب ورکوونکو هم دا اندیښنه څرګنده کړه چې د پارلماني ګروپونو مشران په زیاتره وختونه پارلماني غونډې ته د ګروپي تصامیمو لندون په داسې ډول نه دې روښانه کړی چې د هغوې د ګروپي بحثونو سم انعکاس پکې موجود وي ددې په ځای یې مشرانو پکې خپلې سیاسی ګټې پر مخ وړي دي

[30] په پارلمان کې د پکتیا ولایت د یو غړي سره مرکه. سره له دې چې ځینې نړیوالی نماینده ګی په پارلمان کې دګروپ جوړونې د تشویق په موخه کار کوي( د بیلګې په ډول، د افغانستان د مقننه قوې د تأسیس کولو لپاره د جمهوریت غوښتونکو نړیوال انستیتیوت او د ملل متحد پرمختیایي پروګرام ملاتړ)، اما یو یې هم د په رسمي بڼه د پارلماني ګروپونو په پدیدې باندې په ځانګړي ډول توجه نه کوي.

[31] دغه موضوع به په راتولونکو څیړنیزو مقالو کې په ژور ډول روښانه شي کوم چې د ۱۳۸۹ کال په اوړي کې به نشر شي.

## د پارلمان د غړو له نظره د رایه ورکوونکو سره اړیکې

په مرکو کې د پارلمان غړو ډېر ځلې له خپلو رایه ورکوونکو سره د نږدې اړیکو په اړتیا یې کلک ټینګار کاوه، خو ډېر غړي( په ځانګړې توګه هغه چې د ناامنه ولایتونو استازیتوب کوي) د اړیکو له وضعیت څخه نا راضه وو. هغوی داسې احساس کوي چې د ناامنیو او د ستونزمنو ولایتي سفرونو له امله هغوی په هغه کچه چې د پارلمان غړي یې غوښتونکي دي د رایه ورکوونکو سره لیدنه نشي کولی. د پارلمان یو غړي د خپلې تجربې له مخې ددې ستونزې په اړه داسې وویل:

> *له بده مرغه زه د امنیتي ستونزو له امله د خپلو رایه ورکوونکو سره له ډېر نږدې اړیکه نه لرم. زمونږ د ولایت په څلورو ولسوالیو کې هیڅ دولتي مقام له یوځې بدرګې پرته سفر نه شي کولی. سره له دې زه داسې احساس کوم چې دا زما مسؤ لیت ده چې د ناامنه ولسوالیو په ځانګړې توګه دخپلې ولسوالی څخه لیدنه وکړم تر څو د خلکو ستونزې له نږدې څخه وګورم.*[۳۶]

لکه څرنګه چې د ولایتونو څخه لیدنه یو ستونزمن او کله کله پیښېدونکی کار دی، د پارلمان ډېر شمیر غړو وویل چې دوی د خپلو رایه ورکوونکو سره یا د ټلیفون له لارې اړیکه لري او یا د هغوی رایه ورکوونکي ددوی د لیدنې لپاره کابل ته راځي.

سربېره پر دې امنیتي ستونزې ځینو رایه ورکوونکو ته د نورو په پرتله د ممکنه امتیازي سلوک دلیل هم کېدای شي. لکه ښایي ددې تمه وشي چې د پارلمان غړي ډېر ځلې د لیدنې او خدماتو د برابرولو په برخه کې خپلو ولسوالیو او سیمو ته لومړیتوب ورکړي، چې په دې توګه هغوی خپله رښتیني ټاکنیزه حوزه له هغه جغرافیایي سیمې څخه چې دوی یې مسوولیت پر غاړه لري ډېره کوچنی کوي.[۳۷] مخور سیمه ایز کسان د بیلګې په ډول ملکان، اربابان، قریه داران[۳۸] او د قومونو مشران[۳۹] ډېر ځلې د پارلمان دغړو له خوا په نښه کېږي، ځکه چې هغوی د وکیلانو د لیدنې او هغوی ته د سیمه ایزو مصلحتونو د څرګندولو لپاره کابل ته د سفر کولو ډېر وخت او امکانات لري. د پارلمان یوې غړې د رایه ورکوونکو سره د هغې د پراخو اړیکو څرنګوالی په دې توګه څرګند کړ:

> *زه هڅه کوم چې له ټولو خلکو سره جلا جلا وګورم خو دا امکان نه لري. لکه څنګه چې زمونږه ټولنه یوه دودیزه ټولنه ده نو زه معمولاً د مشرانو، ملایانو او د قومونوله مشرانو سره لیدنه کوم... له بده مرغه د خلکو سره په هغه کچه چې زه یې هیله لرم اړیکه نه لرم . نوله همدې کبله د خلکو او زما تر منځ یو ستر واټن شتون لري.*[۴۰]

په دې توګه دغه خلک د سیمه ایزو رایه ورکوونکو او د پارلمان د غړو تر منځ د اړیکو وسیله ګڼل کېږي چې د ټولټاکنو پر مهال د پارلمان غړو ته د رایو ټولولو د دلالانو په توګه کار کوي.[۴۱] دلته یوه بیلګه دغزني ولایت د یو شمیر مخورو کلیوالو مشرانو په هکله ده چې په کابل کې یې د خپل ولایت د پارلمان له وکیل سره لیدنه کړې وه تر څو د یو حکومتي مکتب د جوړولو او د یو موجوده منځني مکتب په لیسې باندې د بدلیدو ژمنه تر لاسه کړي. په زړه پورې خبره داده چې دغومشرانو ته د هغوی د لیدنې او د هغه وخت لپاره چې د کور څخه لیرې پاتې وو، د خلکو له خوا پیسې ورکړل شوې وې.[۴۲] کیسه ایز شواهد ښیي چې مشرانو ته د پیسو دغه ورکړه که د ټولنې دخلکو لخوا وي او که د سیمه ایزو مخورو لخوا وي اوس یو عام عمل دی.

دا د حیرانتیا خبره نه ده چې په معمولي توګه د رایه ورکونکو تر ټولو قوي شبکې د پارلمان د غړو د استوګنې په سیمو کې میشتې دي. چې یوائې همدا رایې یې هم د پارلمان د څوکې د ګټلو لپاره بسنه کوي. دغه خبره یوه نوې اختراع نه ده دا ځکه چې ددې لړۍ د ۱۳۴۰ لسیزې د ټولټاکنو سیستم ته راګرځي.[۴۳] په کوم کې چې د ټاکل شوو چاروا کو لپاره حوزه او علاقه داري[۴۴] رسمي ټاکنیزې حوزې وې، پدې اړه د پارلمان یوه غړي وویل:

په پخوانیو وختونو کې مونږ کوچنی سیاسي ولسوالی درلودلې چې دا ښه وه. اوس وختونو کې ټول ولایت یوه انتخاباتي حوزه ګڼل کېږي چې دا کار ښه نه دی... که چیرې د پارلمان غړي د هرې ولسوالی څخه ټاکل کېدای نو دا به ښه وای. د یو وکیل مسؤلیت به په یوې ولسوالی کې روښانه وای، دا ځکه چې هر څوک خپل خلک پیژني او هغوی د خپلې ولسوالی د ستونزو سره اشنا وي. په اوسني سیستم کې د خلکو او دهغوی د ستونزو پیژندنه مشکله ده.

لکه څرنګه چې د څېړنې او ارزونې د اداري پخوانیو څېړنو ښودلې، په اوسني سیستم کې د پراخې ولایتي(او څو کسیزه) ټاکنیزې حوزې د سیستم موجودیت د واحدې غیر منقولې رایې د سیستم محدودیتونو سره کولای شي په ولسوالیو کې د اوسیدونکوخلکو لپاره په پارلمان کې د وکیل د نه درلودلو لامل شي او هغوی به د ټولنیزو حقونو څخه د محرومیت او په پارلمان کې د استازي د نه درلودلو احساس وکړي[۴۵] د پارلمان د زیاتره غړو

[۳۲] ددې لیکنې په وخت یواځې د نوماندانو لستونه چاپ شوي وه. د پارلمان د اوسنیو غړو څخه ۲۰۰ تنو( چې د ۱۳۸۴ کال څخه راپدیخوا د وژل شوو وکیلانو په ګډون د پارلمان دغړو ٪۸۳ برخه جوړوي) بیا نومونه ثبت کړي. وګورئ د افغانستان د پارلمان د پیاوړتیا پروژه، د قانون جوړوني خبرپاڼه، دریم، ۱۲ نمبر، ۲۷/ غویي/۱۳۸۹

[۳۳] په پارلمان د کاپیسا ولایت د وکیل سره ددوهم پړاو مرکه

[۳۴] دغه موضوع به په راتولونکو څېړنیزو مقالو کې په ژور ډول روښانه شي کوم چې د ۱۳۸۹ کال په اوړي کې به نشر شي.

[۳۵] دا برخه د نورو څېړنو د ترسره کولو ضرورت لري چې په راتلونکو څېړنیزو مقالو کې به خپاره شي.

[۳۶] په پارلمان کې د غزني ولایت د یو وکیل سره مرکه

[۳۷] وردسورت، « د ګټو ستونزه»

[۳۸] مالک، قریه دار او ارباب په کلیوالي سیمو کې د ټولنې سیمه ایز مشران دی چې د دولت او د ټولنې د خلکو تر منځ د نیمه رسمي مامور په شکل اړیکې ټینګوي

[۳۹] د قوم اصطلاح یوه پیچلی افغانی سیاسي او ټولنیزه اصطلاح ده چې په ساده ډول ډېر ځلی د توکم او قبیلې په مانا ژباړل کیږي. د هغې قرینې په اساس چې دغه اصطلاح کارول کیږي هغه د کورنی څخه د قبیلې پورې حدودو کې د یو پیژندل شوي ګروپ په مانا راځي. په پارلمان کې د جنوبي افغانستان د یو وکیل سره ددوهم پړاو مرکه

[۴۰] په پارلمان کې د جنوبي افغانستان د یو وکیل سره ددوهم پړاو مرکه

[۴۱] ددلالانو د رول په اړه د مفصل راپور لپاره ، وګورئ نوا کابرن او انا لارسن، «په ګډه رایه ورکول: ولې د افغانستان د ۱۳۸۸ کال ټولټاکنې یوه فاجعه وه او نه وه؟» (کابل: د افغانستان د څېړنې او ارزونې اداره، ۱۳۸۸)

[۴۲] په غزني ولایت کې د لیکوال سیمه ایز یادښتونه

[۴۳] لویس دوپري، « افغانستان د ډیموکراسی تجربې ته ادامه ورکوی: دیارلسم(۱۳) پارلمان ټاکل شوی دی» (نیو یارک: د امریکایي پوهنتونو دساحوي کارمندانو راپورونه، د جنوبي اسیا لړۍ ۱۵ ، دریم نمبر: ۱۳۴۹)

په آند د یو بشپړولایت د هیلو پوره کول خورا ستونزمن کار دی. سربیره پر دې، د پارلمان دغړو لپاره کومی ربښتینې ټاکنیزې او نورې انګیزې نشته تر څو هغوی د سیمه ایزو رایه ورکوونکو د وړې ډلی پرځای د یو بشپړ ولایت د اړتیاوو د پوره کولو لپاره هڅه وکړي.

## د ټاکنیزو مبارزو کړنلارې

د راتلونکو ټولټاکنو لپاره د ۲۶۰۰ تنو څخه ډېرو نوماندو نوم لیکنه کړې ده چې په هغې کې د پارلمان اوسني وکیلان او یو ډېر شمیر نوي نوماند هم ګډون لري[46] د پارلمان داوسنیو هغو غړو سره چې مرکه ترسره شوې ده د ټاکنیزو مبارزو د لارو چارو په اړه بحثونو کې د ډله ایزو رایو د ترلاسه کولو لپاره مخور سیمه ایز کسان لکه د کلیو مشران، ملکان او قوماندانان په نښه کوي، همدا راز قومي،قبیلوي، جغرافیوي او د سیاسي ملاتړ شبکې هم په کاروي. ددې تر څنګ یو شمیر خصوصي رسنۍ چې په زیاتو حالاتوکې یې لګښت د مهمو ګوندونو د مشرانو لخوا ورکول کیږي ښایي په ټاکنیزو مبارزو کې ونډه ولري، (د بیلګې په ډول د نورین او نور ټلویزونونه د جمعیت اسلامی د ګوند د مشر برهان الدین رباني، نګاه ټلویزون د خلیلي، دعوت ټلویزون د سیاف، راه فردا ټلویزون د محقق او آینه ټلویزون ددوستم له ملاتړ څخه برخمن دي). د پارلمان هغه غړو چې په تیرو پنځو کلونو کې یې د رسنیو سره ښې اړیکې جوړې کړې دي اوسمهال ډېر ځلې پر ټلویزونونو څرګندیږي او د کرزي له حکومت څخه د خپلې خپلواکۍ ښوولو لپاره په ځینو تودو موضوعاتو لکه د ټولټاکنو قانون د فرمان په اړه تبصرې کوي[47]. لومړنۍ موندنې همدا راز څرګندوي سره له دې چې د نویو پارلماني نوماندو له ټاکنیزو مبارزو سره به په سیاسي او مالي لحاظ د بانفوذه ګوندونو او کسانو لخوا مرسته وشي، ګوندونه به هم د ۱۳۸۴ کال د ټولټاکنو په څیر به له خپلو نوماندو څخه په عام یا غیر رسمي ډول او یا هم په پټه ملاتړ وکړي[48] که چیرې وروسته وکتل شي، دا کار ددې مفکورې له امله ترسره کیږي چې په عمومي توګه خلک په ټولنه کې د ګوندونو د منفي تاریخ په رڼا کې هغه کاندیدان نه خوښوي چې د ګوندونو لخوا یې ملاتړ کیږي. پر دې سربیره د افغانستان د څیړنې او ارزونې د ادارې لخوا د رایه ورکوونکو سره را یه ورکونکو له نظره په ترسره شوو مرکو کې د ګوندونو کاندیدان په ځانګړې توګه یواځې خپل ګوند ته وفادار ګڼل کیږي او د هغه کسانو په وړاندې چې د ۱۳۸۴ کال په ټولټاکنو کې یې ورته رایه ورکړې وه ځان بې مسؤلیته ګڼي[49].

## درغلۍ او امنیتي اندیښنې

ددې حقیقت سره سره چې د ۱۳۸۹ کال د ټولټاکنو لپاره داوسني پارلمان له ۸۰ سلنې څخه زیاتو غړو بیا نومونه لیکلي دي[50]، خو سره له دې هغوی د ټاکنیزو درغلیو او فساد په اړه اندیښمن دي. زیاترو د ۱۳۸۸ کال د جمهوري ریاست او ولایتي شوراګانو د ټولټاکنو او په هغې کې د فساد د کچې په اړه چې فکر کیږي په کې به ترسره شوی وي شکایت وکړ. ویل کیږي چې د ټولټاکنو په خپلواک کمیسون کې د بدلونونو د اړتیا د وړاندیزونو په ځای باید د درغلیو د مخنیوی لپاره یو څو قدمه چې امکان لري ترسره شي. زیاترو وکیلانو د ټولټاکنو د شکایاتو په کمیسون کې د نړیوالو غړو د شتون څخه (لکه څنګه چې اوس شتون لري) چې فکر کیږی بې طرفه دي او قومي او سیاسي تعصب نلري ملاتړ وکړ. سره له دې چې کرزی دې ته لیواله ؤچې نړیواله ټولنه هم د ۱۳۸۸ کال د ټولټاکنو ددرغلیو په تورونو کې ښکیله کړي، د پارلمان زیاترو غړو دغه خبره نه منله حتې تر دې چې په پارلمان کې مهم مخالف وکیلان تر دې هم وړاندې ولاړل او په خلاف یې دا دعوه وکړه چې کرزی پخپله هم ددې درغلیو مسؤل دی. که څه هم چې زیاترو وکیلانو دا ومنله چې په پارلماني ټولټاکنو کې به یو څه درغلۍ وي او د هغې د مخنیوي لپاره ډېر لږ څه کیدای شي. له ستراتیژیکي نظره دا دریځ د پارلمان دغړو لپاره ګټور دی ځکه که چیرې د پارلمان غړي د خپلوڅوکیو په بیا ګټلو کې پاتې راغلل نو د یواځینی دلیل په توګه به هغوی د خپلې ناکامۍ پړه د ټولټاکنو په درغلیو اچوي.

یوه بله ستره اندیښنه چې د پارلمان دغړو لخوا وړاندې شوه هغه ناامني او په ناامنو ولایتونو کې د ټاکنیزې مبارزې ستونزه وه. په واقعیت سره داسې ګونګوسو هم شتون درلود چې د پارلمان د غړو یوه ډله د خپلو ټاکنیزو مبارزو د امنیت د تضمین لپاره ځینو خصوصي امنیتي کمپنیو ته پیسې ورکولې. د پارلمان یوه غړي وویل:

> *امنیت ورځ تر بلې خرابیږي او په زیاترو ولایتونو کې جګړې ادامه لري. د پارلمان زیاتره غړي د ملیشو د ډلو په جوړولو لګیا دي او نږدې ۳۰ وکیلان خصوصي امنیتی کمپنیو ته پیسې ورکوي[51].*

دا یو ځل بیا د پارلمان د اوسنیو غړو او د هغو نوو نوماندو ته چې دداسې اقداماتو وړتیا لري د ګڼو ګټو شتون روښانه کوي چې وروسته هغو نوماندو ته چې دداسې اقداماتو وړتیا نه لري ټاکنیزه مبارزه یوه ډاروونکې دنده ګرځوي. دا خبره همدارنګه د پارلمان هغو غړو ته چې د خپلواک دریدلو او نه دریدلو او د ګوندي ملاتړ د منلو په اړه فکر کوي چې کیدای شي امنیتي تیاری هم ورسره وي د پام وړ پایلې لري. ښایي چې د پارلمان زیاتره غړي په ځانګړې توګه خپلواکه غړي به هڅه وکړي تر څو خپلو رایه ورکوونکو سره تلیفوني اړیکې ونیسي، ولایتونو ته خپل دلالان او نماینده ګان ولیږي تر څو ددوی لپاره کار وکړي، او یا به په خالصه توګه په خپل شهرت او اړیکو باندې اتکا وکړي چې ددې کار لپاره به د پارلمان اوسني غړې ډېر تجربه لرونکې نوماندي وګڼل شي.

---

[44] حوزه داري او علاقه داري کوچني اداري واحدونه دي (په عادي توګه داوسنیو ولسوالیو څخه کوچنۍ وي) چې د ظاهر شاه د پادشاهۍ په وخت کې د ټاکنیزو حوزو په حیث کارول کیدل.

[45] انا لارسن، « د یوې افغاني ډیموکراسي په لور؟ په افغانستان کې د ډیموکراسی د راوستولو د پروسې دمفکورو راسپړل» (کابل: د افغانستان د څیړنې او ارزونې اداره ، ۱۳۸۶)

[46] کابرن، « د کابل په اړونده»

[47] د لیکوال خپلې ارزونې او نظرونه، ۱۳۸۹ کال

[48] د پارلمان د مختلفو غړو سره مرکې. همدغه حالت د ۱۳۸۸ کال د ولایتي شورا په ټولټاکنو کې هم تر سترګو شوه. وګورئ نوا کابرن او انا لارسن، «ملاتړ، وضع،دنده، د نفوسو احصایه: افغانانو ولې په ۱۳۸۸ کال کې رایه ورکړه» (کابل: د افغانستان د څیړنې او ارزونې اداره ، ۱۳۸۸) او کابرن او لارسن، «په ګډه رایه ورکول.»

[49] د بامیان ولایت څخه پارلماني ټولټاکنو ته یو قوي نوماند سره غیر رسمي مرکه

[50] د افغانستان د پارلمان د پیاوړتیا د پروژې تقنیني خبرپاڼه،۱۷/غویی/۱۳۸۹

[51] په پارلمان کې د پکتیا ولایت د یو وکیل سره مرکه

## ۴ . پایلې : د ۱۳۸۹ کال د غبرګولي څخه د وړې تر میاشتې او تر هغې وروسته

نوموړې مقالې د افغانستان د څېړنې او ارزونې د ادارې لخوا د پارلماني حکومتدارۍ د رواني څېړنې پر مهال کوم چې د ۱۳۸۸ کال د لړم په میاشت کې پیل شوې وه د پارلمان دغړولخوا راپورته شوي ځینې مهم مسایل په لنډ ډول تر پوښښ لاندې نیولي دي. پداسې حال کې چې دغه مسایل به په راتلونکو خپرونو کې په ډېره ژوره توګه وڅېړل شي، لاندیني ټکي د ۱۳۸۹ کال د ټولټاکنو په اړه د لومړنیو موندنو د ځینو پایلو لنډیز وړاندې کوي.

- د ولسي جرګې د وکیلانو ترمنځ مخالفې ډلې پورې د ځان منسوب کولو یو مخ په زیاتیدونکی لیوالتیا لیدل کیږي ، سره له دې چې دغه دریځ تر اوسه مبهم دی او تر یوه ځایه د کرزي د اوسنیو څرګندونو او فرمانونو په وړاندې د غبرګون او له بلې خوا د هغو سیاسي ګټو د تر لاسه کولو له امله دی چې تریوې ټاکنې وړاندې د دا ډول یو دریځ څخه تر لاسه کیدای شي. دغه کار د تیر کال په پرتله کله چې د پارلمان غړي په ښکاره ډول د خپل سیاسي تړاو د ښودولو په اړه زړه نازړه وو یو بدلون څرګندوي ، خو دا د مخالفې ډلې په یووالې او پیاوړتیا کې د یو اوږدمهاله زیاتوالي په مفهوم نه دی.
- په مخالف لورکې زیاتوالی کیدای شي د افغانستان لپاره یو مثبت پرمختګ وي ځکه کیدای شي دا کار د ولمشرۍ د واک د ارزونې او اجرائیه او مقننه قوو د نفوذ تر منځ د یو پراخ انډول د رامنځته کیدو سبب شي. اما د ټولټاکنو څخه دمخه وضع په ضروري توګه د دومداره بدلونونو په مانا نه ده. لکه څنګه چې یې باید تمه وشي په پارلمان کې زیاتره هغه بدلونونه چې اوس رامنځته کیږي په حقیقت کې د ټولټاکنو د مبارزې د ستراتیژیو اود ټولټاکنو د سیاسي فعالیتونو یو سرسري څرګندونې دي. دغه بدلونونه ښایي د ټولټاکنو څخه دمخه یا وروسته له منځه ولاړ شي. سربیره پر دې، په داسې حال کې چې د مخالف لورې په شمیر او قدرت کې زیاتوالی کیدای شي د ارزونې او انډول معیارونه وړاندې کړي، همدا شان کیدای شي چې د ولسي جرګې په د ننه او بهر کې اندیښنې او خړ پړتیا به ډېره کړي په ځانګړې توګه که چیرې د حکومت پلوه او مخالف اړخ دغه ویشنه د پښتنو او غیر پښتنو د ګټو په نظر کې نیولو پر بنسټ وي.
- د ۱۳۸۸ کال د ټولټاکنو په بهیر کې پیښې او د ټولټاکنو پایلې به د ۱۳۸۹ کال ټولټاکنو لپاره د پارلمان د اوسنیو غړو د بیا ټاکل کیدو د مبارزو پر څرنګوالي خورا اغیزه ولري. دواړه حکومت پلوه او مخالف وکیلان به د حکومت په اړه خپل دریځونه د رایو تر لاسه کولو لپاره د اساسي لارې په توګه وکاروي. په هر حال حتې هغه نوماندې چې د حکومت په وړاندې په خپل مخالفت ډېر ټینګار کوي د حکومت څخه به خپل ځانونه په دومره واټن کې ونه نیسي چې د رایه ورکوونکو لخوا خدماتو ته د هغوی لاسرسي تر پوښتنې لاندې راشي.

**د افغانستان د څېړنې او ارزونې د ادارې په هکله**

د افغانستان د څېړنې او ارزونې اداره په کابل کې میشته یوه خپلواکه څېړنیزه اداره ده. ددې ادارې دنده د لوړ څرنګوالي درلودونکو او پالیسۍ پورې اړوندو څېړنو له لارې پرپالیسۍ او چارومثبتې اغیزې او دمعلوماتو پراخول دي.

همدا راز نوموړې اداره په افغانستان کې د څېړنې او زده کړې د کلتور د ودې په موخه د څېړنې پایلې په چټکه توګه خپروي. دې موخې ته د رسیدو لپاره نوموړې اداره د پالیسي جوړونکو، مدني ټولنې، څېړونکو او زده کونکو سره ددوی د څېړنېزې وړتیا د پیاوړې کولو او ددوی په مینځ کې د دې ادارې د څېړنو او کتابتون څخه د ګټه اخیستنې دترویج په موخه ښکیل ده څو په دې توګه وکړای شي شننو، غبرګونونو او خبرو اترو ته لاره هواره کړي.

نوموړې ادارې په ۱۳۸۱لمریز کال په افغانستان کې د بوختو مرستندویه ټولنو په مرسته یې په کار پیل وکړ اود یو مدیره پلاوې درلودونکې ده چې د بسپنه ورکونکو ټولنو له خوا لکه ملګرې ملتونه او نورو څو اړخیزو ادارو، او نا دولتي ادارو له خوا یې استازیتوب کیږي. نوموړې اداره اوس مهال خپله اصلي بودجه د ډنمارک ، فنلند، ناروی، سویډن، سویزرلند او د انګلستان دحکومتونو څخه تر لاسه کوي. د افغانستان د پرانیستې ټولنې د انستیتیوت (FOSIA)، ایشیا فونډیشن (TAF)، اروپایې کمیسیون (EC)، او د نړیوالې پراختیا لپاره د څېړنیز مرکز (IDRC) له خوا ددې ادارې له ځانګړو پروژو سره مالي مرستې کیږي.